


**يادونه**

**دا په اصل کې یوه ویډیو ده، که ویډیو یې واورئ نو ډیر ښه به پرې پوه شئ.**

**د ویډیو د لیدو لپاره یې په لاندې لینک کلیک وکړئ، او ویې ګورئ.**

Ketabton.com

[https://youtu.be/YxyixB8PUlk](https://youtu.be/YxyixB8PUlk)

ketabton.com - The Digital Library



## د داستان پېژندنه

---

| | |
|---|---|
| **نوم.** | **د لیلما خماري د ژوند داستان** |
| **ژانر.** | **مستند داستان** |
| **ژباړن.** | **سیدادریس سادات** |
| **بڼه.** | **پي ډي ایف** |
| **نشرونکی.** | **کتابتون** |

**یادونه: دا داستان زموږ د خیرنې یوه برخه وه او اوس مهال لپاره زموو یوه ویډیو ده.**

**که تاسې یې هغه ویډیو لیدل غواړئ، نو په لاندې لینک کلیک وکړئ او ویې ګورئ.**

**https://youtu.be/YxyixB8PUlk**

ketabton.com - The Digital Library



## خماري – کابل کې د کوڅه‌خرابات یو یادګاري تاریخ

په شپیتمه لسیزه کې یوه ښځه وه چې غږ یې د کابل زړې کوڅې لړزولې، ملا او عامي دواړه یې د خوږ آواز په دام کې راګیردل.

که څه هم کره معلومات نشته، خو د روایتونو له مخې، د هغې نوم لیلما و، او د "خماري" په نوم شهرت یې درلود.

خماري د ۱۳۴۰مې لسیزې په جریان کې د بلخ ولایت د مزار شریف په یوه بې‌وزله کورنۍ کې وزیږېده، د قوم له نظره، هغه تاجکه وه.

د ځینو مجبوریتونو له وجې، خماري له خپلې کورنۍ سره مزار شریف پرېښود او کابل ته ولاړه.

دا چې د ژوند ستونزو په خماري هره لاره بنده کړې وه، ځکه نو هغې نڅا او سندرو ویلو ته مخه کړه.

هغه یوه ځوانه، معصومه او عاجزه نجلۍ وه چې د خپل تریخ قسمت قرباني شوه، د هغه ژوند د زرګونو نورو افغان نجونو په څېر د لوبو هدف وګرځېد.

خماري د مجبوریو له امله اړ شوه چې د رقص او خپل خوږ آواز له لارې خپلې مور او کوچني ورور ته نفقه پیدا کړي، خو دا هر څه د ډېرې درنې بیې په بدل کې وو.

ketabton.com - The Digital Library



**دغې نجلۍ د سیګرټو د لوګي، جادويي نخا او زړه راښکونکي آواز سره ژوند تېراوه، چې تل یې د لوفرو نارینه وو په غونډو کې خپل هنر وړاندې کاوه.**

**له هغې څخه یوازې څو محلي نغمې چې د زړو وسایلو په مرسته ثبت شوي راپاتې دي، او د هغې صاف، خوږ او روح جلبوونکی غږ یې تر موږ رارسولی دی.**

**په هر اوریدونکي کې یې تاثیر پرېښود.**

**خماري یو داسې غږ درلود چې د هر اورېدونکي په زړه کې یې تاثیر پرېښود.**

**وروسته خماري دومره مشهوره شوه چې د وخت له نوموتو هنرمندانو استاد بلتون، میر مفتون، او جاوید هماهنګ  سندرغاړو سره یې ګډې سندرې وویلې...**

**کله چې خماري له مشهورو سندرغاړو سره ګډې سندرې ویلې، د افغانستان خلکو یې آواز وپېژاند او نوم یې په هره خوا خپور شو.**

**که څه هم ډېری افغانان خماري یوازې یوه سندرغاړې بولي، خو د دې سر سره خماري به د محفلونو لپاره نڅاوې هم کولې او خپل له عزته ډک ژوند به یې د هوسبازو نارینه وو سره تېراوه.**

**خو دا یوازې د هغې د ژوند یو روایت دی.**

**https://youtu.be/YxyixB8PUlk**

ketabton.com - The Digital Library



**دا هماغه قضاوت دی چې ټولنه یې پر ښځو تپي شاید خماري یوازې د زمانې د تقدیر او شرایطو قرباني وه.**

**که د بلې زاویې څخه د هغې د ژوند کیسې ته وګورو، موږ کولی شو د یوه آزاد، سرکشه روح انعکاس ووینو، چې د فقر او درد په منځ کې یې د رقص او آواز له لارې د ژوند سره مبارزه کوله.**

**رقاصه یا هم ډمه ګڼل کېدل!**

**کله چې د داسې ښځو کیسو ته ګورو چې رقاصه یا هم ډمه ګڼل شوي وي، موږ تل له ژورو پوښتنو سره مخ کېږو، دا کار یوه ښځه دې ته اړباسي چې دې لاره ته ورشي؟**

**شاید خماري هم د هغو ناوړه ټولنیزو جوړښتونو قرباني وه، چې هغه یې دغه ګړنګ ته ورټېله کړه او د هغې سرنوشت یې وټاکه، خماري د هغو ښځو د ژوند یوه برخه وه، چې د فقر، بدو رواجونو او ناوړه حالاتو قرباني شوې وې.**

**خو د هغې د ژوند د وروستیو حالاتو په اړه کره معلومات نشته، چې ژوندۍ ده او که مړه؟**

ketabton.com - The Digital Library



**کله چې طالبان واک ته ورسېدل، خماري هم د ډېرو نورو هنرمندانو په څېر ورکه شوه.**

**خو د حنيف رهياب چې د افغانستان له نامتو کيسه‌ليکوالو څخه دی د وينا له مخې، خماري وژل شوې ده.**

**کيسه داسې ده:**

**يوه ځوان کيسه کوي چې له مزار شريف څخه کابل ته راغلی و، څو د خماري ليدو ته ولاړ شي، بالاخره په کوچه خرابات کې يې د خماري کور پيدا کړ او هغه ته ننوت.**

**خو هلته يې يوازې د خماري مور او ورور وليدل.**

**مور يې يوه کمزورې، بوډۍ ښځه وه، چې د ناروغۍ له امله بستر وه.**

**وروسته معلومه شوه چې خماري يوه اوونۍ وړاندې ورکه شوې وه.**

**او د يوې اوونۍ وروسته، د هغې مړی د ښار په يوه ځای کې په ډېر بد حالت کې وموندل شو.**

**خو هغه څه چې خماري يې تلپاتې کړه، د هغې هغه خوږ غږ ؤ، چې د زړه له درده يې راوباسلی وو او د اورېدونکو په زړونو کې ځای نيولی و.**

ketabton.com - The Digital Library



**په داسې زمانه کې چې د نن ورځې ډېرې سندرغاړي د میک اپ او مصنوعي تخنیکونو تر شا خپل غږ پټوي، خماري له خپل طبیعي، خالص آواز سره ژوندۍ پاتې شوه.**

**خماري – یو ژوندی غږ، یو ورک شوی تقدیر!**

**آیا خماري لا هم ژوندۍ ده؟ یا د هغې کیسه یوازې یوه افسانه شوې ده؟**

**د خماري غږ، سره له دې چې د زمانې له دوړو پټ شوی، لا هم د کوڅه خرابات د پخوانیو ویاړلو ورځو انګازې را ژوندۍ کوي.**

**هغه ورځې چې اوس یې یوازې یادونه پاتې دي هغه یادونه او زاړه آهنګونه چې د زمانې په ګردونو کې ورک شوي دي.**

**تاسې د خماري د مرګ په اړه څه فکر کوئ؟**

**خپلې نظریې د ویډیو په کمنټ کې له موږ سره شریکې کړئ.**

**دا مو د ویډیو لینک دی.**

**https://youtu.be/YxyixB8PUlk**

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*